IASC Inter-Agency Standing Committee

***د ادارو تر منځ د دايمي کمیټې***
***د بېړنيو چارو د ريیسانو د ډلې لخوا مطبوعاتي اعلاميه***

# د بشرپالو متخصصينو ډلې په افغانستان کې خپل ماموريت پای ته ورساوه او د ژوند ژغورنې له بشرپالو فعاليتونو څخه يې د ملاتړ غوښتنه وکړه

(کابل، د ۲۰۲۲ کال د فبروري ۲۵ مه): په افغانستان کې د ناوړه بشري وضعیت د څارنې د پنځه ورځني ساحوي ماموريت په پای کې، د ملګرو ملتونو او نادولتي موسسو د لوړ پوړو استازو يوه پلاوي موندلې چې بشرپالو سازمانونو د هغو خلکو لپاره د ژوند ژغورونکو مرستو د چمتو کولو لپاره خپله وړتيا ښودلې چې مرستو ته سخته اړتيا لري.

دغې ډلې په کابل کې او د کندهار پنجوايي او سپين بولدک کې د بشرپالو پروژو نه د ليدنې پر مهال، د لومړۍ کرښې له مرستندويه کارکونکو، له روغتيا پالو متخصصينو، او د بشري همغږۍ له ډلو سره وليدل. دوی همدارنګه له هغو ښځو او نارينه وو سره خبرې وکړې چې په مستقيم ډول د لسيزو جګړو او بې ځايه کيدو، د تکراري وچکالۍ په ګډون له اقليمي پېښو، او د اګست له ۱۵راهيسې په افغانستان کې له سخت اقتصادي رکود څخه اغيزمن شوي دي.

د ادارو تر منځ د دايمي کمیټې د بېړنيو چارو د ريیسانو د ډلې مشرې رينا ګيلاني وويل، "د بشري کړاوونو پراخوالی او د افغانانو بېړنۍ اړتياوې له هغه څه څخه چې موږ د خپل ماموريت په جريان کې وليدل او له کومو خلکو سره چې وغږېدو، په خواشينوونکې ډول له ورايه واضحه وې. مګر دا هم روښانه وه چې د بشرپالو چارو فعالان، له اصولو سره سم او بې له کوم قيد او شرط نه د بشري مرستو رسولو ته په بشپړه توګه ژمن دي. "څرنګه چې په افغانستان کې بشري او اقتصادي بحرانونه مخ په زياتېدو دي، د نړيوالې ټولنې هوډ هم بايد د بشرپالو کارکوونکو، روغتيايي کارکوونکو او په لومړۍ کرښه کې د نورو مرسته کوونکو په ملاتړ ثابت پاتې شي."

د لوړ پوړو بشرپالو متخصصينو ډله چې د بېړنيو چارو د ريیسانو د ډلې په استازيتوب له افغانستان څخه ليدنه کوي، يوه مشورتي اداره ده چې د ادارو تر منځ د دايمي کمیټې (IASC) په استازيتوب د ستراتيژيکو او عملياتي مسلو په اړه نړيوالې بشرپالې ټولنې ته سپارښتنې وړاندې کوي.

د پاملرنې په مؤسسې کې د بشرپالو چارو مرستيالې ډيپمالا مهلا وويل: "ما له يوې داسې ښځې سره وليدل چې ويل يې هغې په تيرو ۱۴ ورځو کې يې پخلی نه دی کړی ځکه چې د هغې په پخلنځي کې څه نشته. ما داسې ميرمنې هم وليدې چې ځانونه يې له خوړو بې برخې کول چې پر ځای يې لمړی ماشومان او کورنۍ وکولی شي څه وخوري، چې دا په هېڅ ډول د منلو وړ نه ده. خلک د بنسټيزو خدماتو لکه خوړو، تعليم، په يخنۍ کې د کورونو د تودولو د توکو لاس رسي ته اړتيا لري. همدا شان خلک نغدو پيسو ته اړتيا لري ترڅو وکولی شي د خپلې اړتيا او خوښې وړ څيزونه راوپيري. مونږ بايد د يوې نړيوالې ټولنې په توګه د افغانستان خلکو ته د خدمت لپاره سره يو ځای شو، ځکه زمونږ د هرې ورځې ځنډ د ژوند د لاسه ورکولو په معنی دی."

د روان بانکي وضيعت او د نغدو پيسو د محدوديت په ګډون د يو خورا ننګوونکي عملياتي چاپيريال سربيره، په افغانستان کې بشرپالو ادارو خپل عمليات پراخ کړي او بېوزلو اړمنو خلکو ته د مرستو په رسولو کې خپلو ټاکلو موخو ته رسيږي.

د ۲۰۲۱ کال په وروستيو څلورو مياشتو کې، بشرپالو همکارانو د تېر کال د لمړيو څلورو مياشتو په پرتله نږدې دوه برابره خلکو سره مرستې کړې دي. د ۲۰۲۱ کال تر پايه په ټول هيواد کې، ۱۹,۶ مليونه خلکو ته بشري مرستې رسېدلې، چې د ۲۰۲۱ کال د بشري غبرګون پلان په لومړي سر کې د پلان شويو ۱۷/۷ مليونه خلکو څخه، ۲ مليونه ډېر دي. د ۲۰۲۱ کال تر ډسمبره پورې، ۱۸۰ کورنيو او بهرنيو بشرپالو ادارو د افغانستان د ۴۰۱ ولسواليو له ډلې۳۹۷ ته، څو سکتوري مرستې رسولې دي.

د خوړو د نړيوال سازمان د بيړنيو چارو مشر مارګوټ ونډر ولډن وويل: "اوس ددې وخت دی چې د افغانستان له خلکو سره ودريږو، مونږ يوه دقيقه هم د ضايع کيدو نلرو او اوس لمړيتوب په هيواد کې هغو کسانو ته دی چې په لرو پرتو سيمو کې اوسيږی. کورنيو لمخه ډير څه زغملي دي. ما له داسې ښځو سره وليدل چې دندې غواړي، ميندې چې خواړه نلري او اولادونه يې په خوارځواکۍ اخته دي."

په افغانستان کې د بشري اړتياوو کچه بې سارې ده. له ۲۴ مليونه وګړو څخه ډېر خلک - ۵۹ سلنه نفوس - اوس ژوند ژغورونکو مرستو ته اړتيا لري، چې د ۲۰۲۱ کال په پرتله ۳۰ سلنه ډيروالی په ګوته کوي. په څلورو کلونو کې دويمې سختې وچکالۍ او په کرنيزو توليداتو کې د کمښت په رامنځته کېدو سره، د خوړو د خونديتوب او د اوبو د کموالي خطرونه زيات کړي دي. هغه وران شوي کورونه او سرپناوې چې د لسيزو جګړو په ترڅ کې سخت زيانمن شوي په سملاسي ډول بيرته جوړولو ته اړتيا لري، په دې ډله کې د هغو بې ځايه شويو خلکو لپاره سرپناه هم شامله ده چې غواړي بېرته کورونو ته راستانه شي. د اقتصادي بحران له امله د ژوند او معيشت چارې ټکنۍ شوي. د خلکو هغه محدودې زيرمې په ختميدو دي، چې ډېرخلک يې د ژوندي پاتې کيدو لپاره منفي لاروچارو خپلولو لکه د ماشومانو ودونه او د ماشومانو کار

IASC Inter-Agency Standing Committee

ته اړ کړي دي. ښځې او نجونې په داسې حال کې چې د دوی بشري حقوق، په ټولنه کې د ګډون، د کار کولو وړتیا او زده کړو ته د لاسرسي حقوق یې سخت فشار لاندې دي، په ځانګړې توګه اغیزمنې شوې دي.

د افغانستان د ۲۰۲۲ کال د بشري غبرګون پلان چې د ملګرو ملتونو او د بشرپالو ادارو لخوا د جنورۍ په ۱۱ مه وړاندې شو، د بشرپالو مرستو راټولولو تر ټولو لویه غوښتنه ده چې د یو واحد هیواد لپاره وړاندې شوې، چې له ۲۲ ملیونو څخه زیاتو خلکو ته د حیاتي بشري مرستو رسولو لپاره د ۴/۴۴ ملیارده ډالرو غوښتنه کوي. که چیرې تمویل شي، مرستندویه سازمانونه به وکولی شي چې د حیاتي خوړو برابرولو، کرنیزو مرستو، روغتیایي خدمتونو، د خوارځواکۍ درملنې، بیړنۍ سرپناه، اوبو او روغتیا ساتنې، خوندیتوب او همدارنګه د بیړنیو زده کړو په برخو کې خپلې چارې چټکې کړي.

په ICVA کې د بشرپالو چارو د همغږۍ مشر جیرمي ویلارډ وویل: "د افغانستان کلیوالو ټولنو نه لیدنه دا په ګوته کوي چې بیړنیو بشري مرستو لکه روغتیا ساتنې، د نجونو او هلکانو تعلیم او خوندیتوب ته څومره اړتیا ده." نوموړي زیاته کړه: " حیاتي پروژې لا دمخه د کورنیو او نړیوالو نادولتي موسسو او د دوی د شریکانو لخوا پر مخ وړل کیږي، او همدارنګه اوس او په راتلونکي کې له لا ډېرو منابعو او نړیوال ملاتړ سره، ډیر نور څه ترسره کیدای شي چې باید ترسره شي."

ایډیټورانو ته مهم ټکي:

په افغانستان کې د بشري وضیعت په اړه مهم حقایق:

- له نیمایي څخه ډیر نفوس د خوراکي توکو د نه خوندیتوب له بحراني یا بیړني وضیعت سره مخامخ دی. ۲۳ میلیونه خلک له شدیدې لوږې سره مخامخ دي، نږدې ۹ میلیونه یې په بیړني حالت (IPC 4) کې دي.
- اټکل کیږي چې په ۲۰۲۲ کال کې به له پنځه کلنو نه د کم عمر له نیمایي زیات ماشومان له شدیدې خوارځواکۍ سره مخامخ شي. له بیړنیو ژوند ژغورونکو بشري مرستو پرته به سږکال، له پنځه کلنۍ کښته عمر لرونکي څه باندې ۴ میلیونه ماشومان په شدیده خوارځواکۍ اخته شي، چې له دې ډلې به یې یو ملیون ډیره جدي خوارځواکي ولري. که بیړني اقدامات ونشي، ښایي سږکال له ۱۳۰ زرو ډیر ماشومان مړه شي.
- له ۲۰۱۲ کال راهیسې په ملیونونو بې ځایه شوي او راستانه شوي له خپلو مېنو لرې او د ژمي په دغو سختو شرایطو کې په ناسمو ځایونو کې داسې ژوند کوي چې لومړنیو روغتیایي اسانتیاوو او د پاکو اوبو او تشناب خدماتو ته محدود لاسرسی لري.
- د قحطۍ مخنیوی په مناسب وخت کې د خوراکي توکو او کرنیزو مرستو د وړاندې کولو یو ترکیب ته اړتیا لري. کرکیله، په خپلو سیمو اوکوروڼو کې د خلکو د پاته کیدو لپاره، ډیره مهمه ده. د لوږې موجوده بحران ته د رسیدنې او د پراخ اقتصادي سقوط د مخنیوي لپاره کرکیله دوامداره پاملرنې ته اړتیا لري.
- لومړنیو خدماتو ته د لاسرسي د حق خوندي کېدو په ګډون، تر ټولو بېوزلو خلکو ته د خوندیتوب اړوندو نوښتونو ته اړتیا ده.
- د افغانستان د ۲۰۲۲ کال د بشري غبرګون پلان (2022 Afghanistan Humanitarian Response Plan) د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ په ۱۱ وړاندې شو.
- د برتانیې حکومت په دې وروستیو کې اعلان وکړ چې دوی به له ملګرو ملتونو سره د ۲۰۲۲ کال په مارچ کې د ژمنو د لوړې کچې د یوې ناستې ګډ کوربه توب وکړي چې په افغانستان کې مخ پر زیاتیدونکي بشري ناورین ته مرستو برابرولو ملاتړ وکړي.

د بیړنیو چارو د رییسانو ډله (Emergency Directors Group) له لوړ پوړو بشرپالو متخصصینو څخه جوړه شوې ده چې د ادارو ترمنځ دایمي کمیټې Inter-Agency Standing Committee (IASC) ته په ستراتیژیکو او عملیاتي مسلو کې مشوره ورکوي، د پالیسو د جوړولو، د ستراتیژیکو لومړیتوبونو د ټاکلو او بشري ناورین ته د ځواب ورکولو په موخه د سرچینو د انسجام لپاره د مرستندویه سازمانونو د را یوځای کولو لپاره یو اوږدمهاله او د لوړې کچې دبشرپالو همغږۍ مرجع ده.

د ماموریت ټیم د ۲۰۲۲ کال دفبرورۍ له ۲۰- ۲۴مې پورې په افغانستان کې وو چې د بیړنیو چارو له لاندې رییسانو څخه جوړ شوی وو:

- **اغلې رینا ګیلاني**، د OCHA د عملیاتو او ملاتړ راجلبولو د څانګې رییسه
- **اغلې مارګوټ ویندر ولډن**، د WFP د بیړنیو حالاتو مشره
- **ښاغلی جیف لبویتز**، د IOM د بیړنیو حالاتو او عملیاتو مشر
- **ښاغلی جیرمي ویلارډ**، د ICVA د بشرپالو چارو دهمغږۍ مشر
- **اغلې شوکو شیموزاوا**، د UNHCR د بیړنیو چارو، امنیت او اکمالاتو مشره
- **اغلې ډیپمالا مهلا**، د CARE د بشرپالو چارو مرستیاله مشره
- **ښاغلی مانویل فونټاین**، د UNICEF د بیړنیو پروګرامونو د دفتر مشر
- **ښاغلی الطاف موساني**، د WHO د بیړنیو روغتیایي مداخلو مشر

د رسنیو سرچینې:

- د رسنیو لپاره د ماموریت لخوا اخیستل شوي تصویرونه په دې ادرس د لاسرسي وړ دي: https://bit.ly/3LTWx1Y

IASC Inter-Agency Standing Committee

- د ماموریت ویډیو په دې ادرس د لاسرسي وړ ده: https://bit.ly/3t7DAk4

د رسنیو لپاره اړیکې
پییر پارون، OCHA، peronp@un.org
شېلي ټکرال، WFP، shelley.thakral@wfp.org